مرکز مطالعات استراتژیک و منطقوی
د ستراتېژیکو او سیمه‌ییزو څېړنو مرکز

# تحلیل هفته

**شماره: ۲۲۳** (از ۱ الی ۸ میزان ۱۳۹٦ هـ ش)

**این نشریه مجموعهٔ تحلیل رویدادهای مهم سیاسی و اقتصادی هفته‌وار است که به زبان‌های پشتو، دری، انگلیسی و عربی، توسط مرکز مطالعات استراتژیک و منطقوی تهیه و نشر می‌گردد، تا نهادهای سیاست‌گذار و پالیسی‌ساز از آن استفاده نمایند.**

---

## آنچه در این شماره می‌خوانید:

مقدمه ..... ۲
**د امریکا-هند ملګرتیا او پر سیمه يې اغېزې ..... ۳**
په سیمه کې د امریکا او هند نږدې کېدونکې ګټې ..... ۴
د امریکا او هند نږدې کېدونکې اړیکې ..... ۵
**وضعیت افغانستان در سه سال حکومت وحدت ملی ..... ۷**
وضعیت امنیتی ..... ۷
گفتگوهای صلح ..... ۹
اختلافات داخلی ..... ۱۰
سیاست خارجی ..... ۱۰
وضعیت اقتصادی ..... ۱۱
**اکاډمیک بحث: د افغانستان او سوېلي آسیا لپاره د ټرمپ تګلاره؛ په سوله او جګړه يې اغېزې ..... ۱۲**

## مقدمه

د افغانستان او سوېلي اسیا لپاره د ټرمپ د نوې ستراتېژۍ له اعلان وروسته، چې په افغانستان کې یې د هند پر رول ټینګار پکې وکړ، د امریکا-هند د ملګرتیا او د سیمې پر هېوادونو یې د اغېزو بحثونه راپورته شوي دي.

تېره اوونۍ له یوې خوا د امریکا دفاع وزیر د دوشنبې په ورځ (د سپټمبر ۲۵مه) نوي ډهلي ته په یوه درې ورځني سفر راغی او له بلې خوا د افغانستان اجرائیه رئیس ډاکتر عبدالله هم د پنجشنبې په ورځ (د سپټمبر ۲۸مه) هند ته په یوه رسمي درې ورځني سفر ولاړ. دا چې په سیمه کې به د امریکا-هند ملګرتیا د سیمې په هېوادونو څه اغېزې وښندي، د دې اوونۍ د تحلیل په لومړۍ برخه کې یې په اړه د ستراتېژیکو او سیمه‌ییزو څېړنو مرکز شننه لولئ.

د تحلیل په دویمه برخه کې بیا د ملي وحدت حکومت د درې کلن مزل په اړه لولئ. د ملي وحدت حکومت درې کلونه پوره شول او دغه حکومت په تېرو دریو کلونو کې له ډېرو لوړو ژورو راتېر شو. که څه هم په یوه ټولیز نظر کې دغه حکومت ځینې لاسته‌راوړنې هم لرلې دي؛ خو تر ډېره بیا په دغو دریو کلونو کې له سترو ستونزو او ننګونو سره مل و. دا چې په تېرو دریو کلونو کې د هېواد امنیتي، سیاسي او اقتصادي وضعیت څرنګه و؟ هغه پوښتنې دي، چې د تحلیل په دې برخه کې مو ځواب کړې دي.

په وروستۍ برخه کې هم د ستراتېژیکو او سیمه‌ییزو څېړنو مرکز له‌خوا «د افغانستان او سوېلي اسیا لپاره د ټرمپ تګلاره؛ پر سوله او جګړه یې اغېزې» تر عنوان لاندې جوړ شوي اکاډمیک بحث راپور لولئ.

# د امریکا-هند ملګرتیا او پر سیمه یې اغېزې



تېره اوونۍ افغان اجرائیه رئیس ډاکتر عبدالله له نږدې ۲۰۰ افغان سوداګرو، مدني فعالانو، خبریالانو او حکومتي چارواکو په ملګرتیا هند ته سفر وکړ او هلته یې د هند له لومړي وزیر او نورو جګپوړو چارواکو سره وکتل.

اجرائیه رئیس هند ته د خپل سفر پرمهال له هندي لوري سره د افغان پولیسو د روزنې تړون لاسلیک کړ. دغه راز د کابل-ډهلي ترمنځ د افغان پولیسو د تخنیکي او انکشافي روزنې په برخه کې هم د همکاریو سند لاسلیک شوی دی.

د امریکا د سوېلي آسیا او په تېره بیا د افغانستان په تګلاره کې هند ته ډېر رول ورکړل شوی او واشنګټن له هند څخه غوښتي، چې په افغانستان کې خپله پانګونه او همکاري زیاته کړي. له همدې ځایه ده، چې هند د افغانستان په ۳۱ ولایتونو کې د ۱۱٦ مهمو پروژو د پیلولو ژمنه کړې ده.

د دې ترڅنګ، د امریکا د دفاع وزیر جیمز متیس هم تېره اوونۍ هند ته سفر وکړ او ورپسې د ناټو له سرمنشي سره یوځای کابل ته په یوه ناڅاپي سفر راغی. د ډونالډ ټرمپ د نوې سوېلي آسیا تګلارې له اعلان وروسته، هند ته د امریکا د لوړپوړو چارواکو لهخوا دا لومړنی سفر دی. د دغه سفر پرمهال د هند د دفاع وزیرې افغانستان ته

د هندي امنيتي سرتېرو لېږلو آوازې رد کړې او ويې ويل: «هېڅ يو هندي سرتېری به د افغانستان په خاوره قدم کېنږدي.»

پر سيمه د امريکا-هند د اړيکو راتلونکو اغېزو ته په کتلو سره، دلته د امريکا او هند د نږدې کېدونکو ګټو او د دغو دواړو هېوادونو د نږدې کېدونکو اړيکو په اړه لولئ.

## په سيمه کې د امريکا او هند نږدې کېدونکې ګټې

امريکا له ۲۰۰۰ کال راهيسې، په آسيا او په تېره بيا په سوېلي آسيا کې د چين د پورته کېدا د مخې ډب کولو په موخه خپلې اړيکې له هند سره غځوي. د بارک اوباما په دوره کې دا ډول اړيکې ډېرې پراخې شوې.

هند هم، په تېره بيا د نارېندرا مودي د صدراعظمۍ پرمهال غواړي خپل عنعنوي بهرني سياست ته د پای ټکی کېږدي او نور ځان د امريکا په بلاک کې وغورځوي؛ ځکه دوی هم د پاکستان په پرتله چين ته د اصلي ګواښ په سترګه ګوري.

په سوېلي آسيا او په تېره بيا افغانستان کې هند او امريکا تر ډېره له يو بل سره همغږي دي؛ خو بيا هم يو شمېر داسې ډګرونه شته دي، چې د دوی ترمنځ اختلافات ډېرولی شي. د همغږۍ په دغو ډګرونو کې له سخت‌دريځو ډلو سره مبارزه، د افغان حکومت پياوړي کول او د چين پورته کېدا ده. په اختلافي ډګرونو کې د ايران له کبله د چابهار بندر تړون، له طالبانو سره د سولې خبرې اترې او په افغان حکومت کې د دوی شاملېدل وي.

د ټرمپ اداره هم، په سيمه کې د هند پر ارزښت قايله ده او د هند ستراتېژي او بهرنی سياست تر ډېره له خپلو ګټو سره همغږی ګڼي. همدا لامل دی، چې واشنګټن اوس د پاکستان له حساسيتونو پرته په افغانستان کې د هند نفوذ زياتول غواړي.

په بل اړخ کې، پاکستان د ټرمپ له تګلارې اندېښمن دی. همدا لامل دی، چې د پاکستان لومړي وزير په امريکا کې د خپلې وينا پرمهال وويل، هند کولای شي، چې له افغانستان سره اقتصادي او سوداګريزې اړيکې ولري؛ خو موږ به هېڅمهال هم د دې اجازه ورنه‌کړو چې هند دې په افغانستان کې سياسي او امنيتي رول ولوبوي.

که څه هم په هند کې د کاګرس له حکومته راوروسته، د نرېندرا مودي حکومت په افغانستان کې د پاکستان د حساسیتونو پروا نه کوي؛ خو دا چې هند افغانستان ته خپل امنیتي ځواکونه نه رالېږي، د نورو ډېرو عواملو ترڅنګ یو لامل د پاکستان حساسیت هم شامل دی او دا ځل هم امریکا هند ته په افغانستان کې د پوځي حضور په تړاو قناعت ورکولو کې پاتې راغله.

## د امریکا او هند نږدې کېدونکې اړیکې

د امریکا ولسمشر بارک اوباما په ۲۰۱۴ کال کې د آسیا د بیا متوازن کولو تګلاره اعلان کړه، چې یو شمېر چینایان بیا دغه تګلاره د چین حصار ګڼي؛ څکه دوی د آسیا بیا متوازن کول د چین په مقابل کې د هند، جاپان او یو شمېر نورو هېوادونو راپورته کول ګڼي. د امریکا او هند ترمنځ د همدغې نوې تګلارې په رڼا کې سوداګریزې او دفاعي اړیکې هم ورځ تر بلې پیاوړې کېږي.

په بل اړخ کې په هند کې د نرېندرا مودي له واک ته رسېدو سره د امریکا او هند اړیکو نوی موج واخیست. نرېندرا مودي له ۲۰۱۴ کال راهیسې څلور ځله امریکا ته سفر کړی (دوه ځله په نړیوالو کنفرانسونو کې برخه اخیستل او دوه ځله نور بیا رسمي دولتي سفرونه وو). دغه راز د ۲۰۱٦ کال په جنوری کې بارک اوباما هم د نرېندرا مودي په غوښتنه د هند د جمهوریت ورځې په نمانځغونډه کې برخه واخیسته او په دې ډول اوباما د امریکا لومړنی ولسمشر شو، چې په خپله ۸ کلنه دوره کې هند ته دوه ځله رسمي سفر کوي او د هند د جمهوریت ورځې د رسم ګذشت په مراسمو کې برخه اخلي.

په سیمه‌ییز سیاست کې یو نوی ګام هغه مهال پورته شو او د هند د دفاع وزیر مانوهار پارېکار امریکا ته په یوه رسمي سفر ولاړ او هلته یې له خپل سیال ایشټن کارټر سره وکتل. په ۲۰۱٦ کال کې امریکا ته دا د هند د دفاع وزیر دویم سفر دی او په مجموع کې یې په ۲۰۱٦ کال کې د امریکا له دفاع وزیر سره شپږمه کتنه ده. د وروستي پرمهال هند او امریکا نظامي- لوجستیکي جنجالي تړون، چې د هند دننه له مخالفتونو سره مخ و، لاسلیک کړ. د دغه تړون له مخې به دواړه هېوادونه د یو بل له هوا، اوبو او ځمکې څخه د اړتیا په وخت کې ګټه واخلي؛ خو بیا هم د امریکا دفاع وزیر، په هند کې دننه د مخالفتونو کرارولو او د سیمې د هېوادونو د اندېښنو کمولو په موخه، په ګډ مطبوعاتي کنفرانس کې وویل چې «د دغه تړون معنا دا نه ده، چې موږ به د یو بل په هېوادونو کې پوځي اډې ترلاسه کوو.»

د ټرمپ د حکومت پرمهال هم، د ډهلي او واشنګټن اړیکې تم شوې نه دي، بلکې ورځ تر بلې پراخېږي. که ریښتیا یې ووایو، نو د دغو دواړو هېوادونو اړیکې اوس د یوه ایتلاف بڼه غوره کوي، چې اصلي ګواښ به یې پاکستان او چین ته متوجه وي.

# وضعیت افغانستان در سه سال حکومت وحدت ملی



سه سال قبل از امروز در پی انتخابات نفس‌گیر و جنجالی، در سپتمبر ۲۰۱۴ جان کری وزیر خارجهٔ امریکا به افغانستان آمد و طی توافقنامهٔ سیاسی که به میانجیگری وی، میان اشرف غنی و داکتر عبدالله به امضاء رسید، اشرف غنی به حیث رئیس جمهور و داکتر عبدالله به حیث رییس اجرائیه اعلام گردیدند و بر تقسیم ۵۰-۵۰ قدرت توافق نمودند. به این ترتیب حکومت وحدت ملی ایجاد گردید و جنجال‌های انتخاباتی را خاتمه بخشید.

اینکه در طول سه سال عمر حکومت وحدت ملی وضعیت امنیتی، اقتصادی و سیاسی افغانستان چگونه بود؟ در این تحلیل به گونهٔ خلاصه مورد بررسی قرار گرفته است.

## وضعیت امنیتی

پس از تشکیل حکومت وحدت ملی، با وجود اینکه وضعیت امنیتی در سرتاسر کشور وخیم بود، جغرافیای جنگ نیز از جنوب کشور به شمال کشور گسترش یافت و برخلاف گذشته، جنگ در ولایت‌های شمال کشور شدت یافت. علاوه بر سقوط چندین ولسوالی، شهر کندز نیز نخستین شهری بود که پس از سقوط رژیم طالبان، در زمان حکومت وحدت ملی، دو بار به دست طالبان سقوط کرد.

براساس گزارش "لانگ وار ژورنال" که در اکتوبر ۲۰۱۵م منتشر شد، در سال ۲۰۱۵م از جملهٔ ۳۹۸ ولسوالی در سرتاسر افغانستان ۳۱ ولسوالی تحت کنترول طالبان بوده و در ۳٦ ولسوالی دیگر نیز، طالبان اطراف ولسوالی‌ها را در کنترول خود داشتند. در سال ۲۰۱٦م نیز نظر به گزارش سیگار، ۳۳ ولسوالی در ١٦ ولایت کشور تحت کنترول مخالفین مسلح دولت قرار داشت و در شمار زیادی دیگر جنگ‌های شدید جریان داشت. در این گزارش همچنان گفته شده بود که حدود ٦۳,۴ درصد خاک افغانستان تحت کنترول دولت افغانستان بود. به این ترتیب در سال ۲۰۱٦م تقریبا یک سوم خاک افغانستان تحت کنترول مخالفین مسلح دولت قرار داشت.

از سوی هم، در زمان حکومت وحدت ملی افزایش میزان تلفات افراد ملکی نگران کننده بود. چنانچه یوناما در گزارش خود در رابطه به تلفات ملکی گفته بود که از اول جنوری الی ۳۰ دسمبر ۲۰۱۵ میلادی ۱۱۰۰۲ فرد ملکی در رویدادهای جنگی کشته و زخمی شده بود که نسبت به سال‌های ۲۰۰۹ الی ۲۰۱۴م به بالاترین سطحش رسیده بود. در سال جاری نیز نظر به گزارش یوناما در شش ماه نخست سال ۲۰۱۷ میلادی، ١٦٦٢ فرد ملکی افغان در درگیری‌های مسلحانه و حملات انفجاری جان باخته و ۳۵۸۱ تن دیگر زخم برداشته اند. این در حالی است که در شش ماه نخست سال ۲۰۱٦ میلادی، ١٦۰١ فرد ملکی در جریان درگیری‌های مسلحانه کشته و ۳۵٦۵ تن دیگر زخمی شده بودند.

علاوه بر بلند رفتن میزان تلفات افراد ملکی، تلفات نیروهای امنیتی نیز پس از ایجاد حکومت وحدت ملی افزایش یافته است. چنانچه در جریان سال ۲۰۱۵م نظر به گزارش سیگار، ۵۰۰۰ تن از نیروهای امنیتی در جنگ علیه مخالفین مسلح دولت کشته و ۱۵ هزار دیگر زخمی شدند. اما بربنیاد گزارش‌های دیگر سیگار، از اول ماه جنوری تا ۱۲ ماه نوامبر سال ۲۰۱٦ میلادی، ٦۷۸۵ تن از نیروهای امنیتی افغان کشته و ۱۱۷۷۷ تن دیگر آنها زخمی شده بودند. ولی این رقم در سال جاری میلادی بالا رفته است. گزارش اخیر سیگار می‌نگارد که تنها از اول جنوری الی هشتم ماه می سال ۲۰۱۷م ۲۵۳۱ سرباز افغان کشته و ۴۲۳۸ سرباز دیگر زخمی شده‌اند.

حملات مرگبار هوایی نیروهای خارجی نیز جان صدها تن از افراد ملکی و گاهی هم نیروهای نظامی را گرفت، در حالیکه حکومت وحدت ملی در برابر چنین رویدادها سکوت اختیار کرد.

از سوی هم در این مدت ظهور و گسترش گروه داعش یکی از چالش‌های دیگر بود که در مناطق شرقی کشور جنگ خونینی را در برابر حکومت و طالبان آغاز کرد. با وجود مبارزهٔ حکومت از یک‌سو و طالبان از سوی دیگر، داعش نه تنها سرکوب نشد، بلکه گسترش نفوذ در ولایات مختلف کشور را نیز داشت و حملات و انفجارهای

خونین و مرگباری را انجام داد. هرچند در اوایل سال ۲۰۱٦ شاخهٔ داعش در افغانستان تا حدی تضعیف گردید، ولی حملات این گروه در جریان سال ۲۰۱٦ ثابت ساخت که این گروه هنوز هم تهدید جدی پنداشته می‌شود که خونین‌ترین حملهٔ آن، حمله بر تظاهرکننده‌گان جنبش روشنایی در دهمزنگ کابل در ۲۳ جون بود که در نتیجهٔ آن حدود ۴۰۰ تن کشته و زخمی شدند. در جریان سال ۲۰۱۷ نیز جنگجویان گروه داعش به حملات خویش ادامه دادند. حملهٔ خونین آن‌ها در این سال انفجاری بود در توقف‌گاه موترهای ستره محکمه که به تاریخ ۷ فبروری ۲۰۱۷ رخ داد و در نتیجهٔ آن ۲۱ تن کشته و ۴۱ تن دیگر زخمی شدند.

## گفتگوهای صلح

حکومت وحدت ملی در نخستین گام‌های خویش سیاست خارجی کشور را برای رسیدن به صلح فعال نمود. رئیس جمهور غنی نخستین سفرهای خارجی خویش را به عربستان سعودی، چین و پاکستان به هدف آغاز گفتگوهای صلح با مخالفین مسلح حکومت، انجام داد. در نتیجهٔ همین تلاش‌ها نخست در شهر ارومچی چین نشستی در مورد صلح افغانستان دائر گردید، ولی نتیجهٔ مشخصی را در پی نداشت. پس از آن در منطقهٔ "مری" پاکستان نخستین نشست گفتگوهای مستقیم میان نماینده‌گان طالبان و حکومت افغانستان صورت گرفت.

پروسهٔ مری نیز در همان اوایل پس از افشای خبر مرگ ملا محمد عمر متوقف گردید و روابط میان افغانستان و پاکستان برای نخستین بار پس از تشکیل حکومت وحدت ملی رو به خرابی نهاد. پس از چند ماه، روابط پرتنش میان دو کشور به همکاری کشورهای منطقه و سازمان ملل متحد یک بار دیگر بهبود یافت که در نتیجهٔ آن مذاکرات چهارجانبه میان افغانستان، پاکستان، چین و امریکا برای یافتن نقشهٔ راه گفتگوهای صلح افغانستان، آغاز گردید، اما این نشست‌ها نیز نتیجه‌ی در پی نداشت.

تلاش‌های صلح زمانی به بن‌بست رسید که حکومت افغانستان به جای راه‌کار موثر دیگر برای پیشبرد پروسهٔ صلح، پالیسی جنگ با طالبان را در پیش گرفت، عملیات نظامی گسترده را در مناطق مختلف کشور علیه طالبان آغاز نمود و از لهجهٔ تندی در برابر آن‌ها کار گرفت.

ولی در این زمان امضای توافقنامهٔ صلح با حزب اسلامی افغانستان در راستای صلح یک دست‌آوردی برای حکومت وحدت ملی محسوب می‌شود.

در حال حاضر نیز امید رسیدن به صلح پژمرده است و در استراتیژی جدید امریکا برای افغانستان و آسیای جنوبی، بر تداوم جنگ و سرکوب طالبان تأکید شده است، چیزی‌که در طول یک ونیم دههٔ گذشته نتیجه‌ای نداشت و امریکا نتوانست از این طریق طالبان را شکست دهد و جنگ افغانستان را به پایان برساند.

## اختلافات داخلی

تقسیم ۵۰-۵۰ قدرت میان داکتر عبدالله و اشرف غنی، باعث شد که از همان اوایل ایجاد حکومت وحدت ملی، اختلافات میان عبدالله و لشرف غنی را به میان آورد، این اختلافات زمانی به اوج خود رسید که رئیس اجرائیه اعتراضات آشکاری به رئیس‌جمهور، عملکرد دو سالهٔ او و عملی نکردن تعهدات مندرج در توافق‌نامهٔ سیاسی تشکیل حکومت وحدت ملی، اظهار کرد.

در کنار این، اختلافات و تنش‌ها میان رئیس جمهور غنی و معاون نخست اش نیز موجی دیگری از اختلافات عمیق داخلی بود. در اوایل سال ۱۳۹۵ هـ ش جنرال دوستم از رئیس جمهور غنی به شدت انتقاد کرد که به او سهم کافی در حکومتداری داده نشده است. وی حتی اظهار داشت که تا اکنون صلاحیت معاونیت نخست برایش داده نشده و رئیس جمهور را به قوم‌گرایی متهم کرد.

در جریان همین اختلافات، قضیهٔ احمد ایشچی به میان آمد و اختلافات موجود را چند برابر بیشتر ساخت. جنرال دوستم که در قضیه احمد ایشچی متهم به آزار و اذیت جنسی وی بود، با حزب جمعیت و حزب وحدت در شهر انقرهٔ ترکیه ایتلافی تحت نام نجات افغانستان را تشکیل داد.

این ایتلاف بعد از آن رو به تضعیف شد که از آمدن دوستم به افغانستان ممانعت گردید و طیارهٔ وی اجازهٔ نشست در میدان هوایی ولایت بلخ دریافت نکرد. در حال حاضر دیده می‌شود که ایتلاف نجات افغانستان رو به پاشیدن است، چون عبدالله عبدالله چندی قبل به شهر مزارشریف سفر کرد و گفته می‌شود که هدف سفرش حل اختلافات موجود عطامحمد نور با حکومت مرکزی بود.

در کل، در طول سه سال عمر حکومت وحدت ملی، اختلافات داخلی میان مقام‌های حکومت همواره به شدت وجود داشته است که معمولا پس از مدتی به میانجگری افراد داخلی و مقام‌های کشورهای خارجی، تا حدی حل و فصل شده است.

## سیاست خارجی

در مدت سه سال عمر حکومت وحدت ملی، در بخش‌های که دست‌آورد دارد، تا اندازه‌ی سیاست خارجی را یادآور شده می‌توانیم. حکومت وحدت ملی موفق بر جلب حمایت جامعهٔ بین‌المللی از طریق سیاست خارجی شد. حکومت افغانستان در کنفرانس لندن (۲۰۱۴) طرح‌های خویش برای اصلاحات را ارائه نمود که با استقبال گرم کشورهای کمک‌کنندهٔ افغانستان روبه‌رو شد و ۵۹ کشور بر تعهد شان به حمایت از افغانستان تاکید کردند. در کنفرانس بروکسل نیز حمایت ناتو و کشورهای اروپایی را به دست آورد.

علاوه بر این حکومت وحدت ملی در سه سال گذشته در عرصهٔ الحاق اقتصادی منطقوی، دست‌آوردهایی داشت. قرارداد پروژهٔ تاپی، قرارداد پروژهٔ انتقال ۱۳۰۰ میگاوات برق موسوم به کاسا۱۰۰۰-، تفاهم‌نامه‌ی زیر نام "پروژهٔ یک کمربند، یک راه" که در اوایل سال ۱۳۹۵ میان افغانستان و چین به امضا رسید و به این ترتیب افغانستان نیز بخشی از "راه جدید ابریشم" چین گردید که چین را به آسیای میانه، شرق میانه، افریقای شمالی و اروپا وصل می‌کند.

در بخش ترانزیت منطقوی نیز قرارداد تجارتی و ترانزیتی بندر چابهار میان سران سه کشور (افغانستان، ایران و هند) در ماه جوزای ۱۳۹۵ در تهران به امضا رسید. در کنار این، تجارت میان افغانستان و چین از راه تاجکستان و قزاقستان نیز از طریق خط آهن ترانسپورتی آغاز گردید.

با این همه حکومت وحدت ملی تلاش‌هایی برای گسترش روابط نظامی با کشورهای چین، هند و روسیه داشت که چین و هند در این عرصه تااکنون کمک‌هایی نیز با افغانستان کرده‌اند.

## وضعیت اقتصادی

در زمان حکومت وحدت ملی شماری از پروژه‌های زیربنایی تکمیل و یا هم افتتاح گردید. یکی از این پروژه‌ها افتتاح بند سلما در هرات بود که به کمک هند ساخته شده است. همچنان تفاهم‌نامهٔ انکشاف بند کجکی هلمند و نصب چهار توربین جدید در این بند، قرار داد بند بخش‌آباد ولایت فراه، بند کمال خان و قراردادهای چندین بند بزرگ و کوچک دیگر و همچنان پروژه‌های دیگر انکشافی به امضا رسیده است.

از سوی هم افزایش عواید حکومت وحدت ملی در سه سال گذشته قابل بحث است که برخی گام‌های حکومت در آن نقش داشته است. به گونهٔ مثال وضع مالیه بر کردیت مصرفی شبکه‌های مخابراتی، در افزایش عواید حکومت نقش داشت و حکومت افغانستان در سال گذشته برای نخستین بار در طول چند سال، عواید بیش از عواید تخمین‌شده را جمع‌آوری کرده بود.

با وجود این پیشرفت‌ها و فعالیت‌ها، در طول سه سال عمر حکومت وحدت ملی، وضعیت اقتصادی کشور نسبت به یک‌ونیم دههٔ گذشته روز به روز خراب‌تر گردید، ارزش افغانی به پایین‌ترین حد خود رسید، میزان بی‌کاری به اوج خود رسید، کشور با فرار سرمایه‌ها روبه‌رو شد و رشد اقتصادی کشور نیز کم شد. همین دلیل بود که صدها هزار جوان افغان از طریق راه‌های خطرناک راهی اروپا شدند. در کنار این، جلو فساد اداری نیز گرفته نشد که در کنار مردم، حکومت وحدت ملی را نیز با چالش‌های زیادی روبه‌رو کرده است.

# اکاډمیک بحث: د افغانستان او سوېلي آسیا لپاره د ټرمپ تګلاره؛ په سوله او جګړه یې اغېزې




د امریکا ولسمشر ډونالډ ټرمپ د افغانستان او سوېلي آسیا لپاره د امریکا نوې تګلاره له اتهمیاشتني ځنډ وروسته، د اګسټ په ۲۲مه داسې مهال اعلان کړه، چې د امریکا د ځنډېدونکې تګلارې په تړاو، ډېر بحثونه راپورته وو او له افغانستانه د بشپړ وتلو او د جګړې خصوصي کولو په څېر بېلابېل پروپوزلونه وړاندې شول.

امریکا په خپله نوې تګلاره کې د جګړې د دوام او افغانستان ته د نورو پوځیانو استولو پرېکړه وکړه. د دغې تګلارې په سیمهییز اړخ کې ټرمپ د پاکستان په تړاو تونده لهجه وکاروله او په افغانستان کې یې د هند د رول پر زیاتولو ټینګار وکړ.

دا چې په افغانستان کې د امریکا اوږدمهال حضور او دلته د امریکا د تګلارې څرنګوالی د افغانستان په اوسني او راتلونکي وضعیت او د روان بحران پر برخلیک ژورې اغېزې لري، د ستراتېژیکو او سیمهییزو څېړنو مرکز (CSRS) د دغې موضوع اهمیت ته په کتلو سره دا ځل د اکاډمیک بحثونو په لړۍ کې، پر همدې موضوع علمي غونډه جوړه کړې وه. دغه غونډه سهشنبه (د تلې میاشتې ۴مه ۱۳۹٦) په کابل کې د دغه مرکز په دفتر کې د لسګونه علمي شخصیتونو په ګډون جوړه شوه.

په غونډه کې د افغانستان د سولهييز بدلون د ټولنې مشر او سياستوال **دوکتور فاروق اعظم**، د ولسي جرګې غړي او د خاتم‌النبيين پوهنتون رئيس او د سياسي علومو استاد **دوکتور عبدالقيوم سجادي**، دکابل پوهنتون استاد **اسدالله وحيدي** او د ستراتيژيکو او سيمه‌ييزو څېړنو مرکز مشر **دکتور عبدالباقي امين** د موضوع پر بېلابېلو اړخونو خپلې شننې او ويناوې وړاندې کړې.

لومړي ويناوال دکتور فاروق اعظم په افغانستان کې پر سوله او جګړه د امريکا د نوې تګلارې پر اغېزو خبرې وکړې. ښاغلي اعظم وويل: «ټرمپ ته دا جنګ په ميراث ورپاتې دی او کله چې د اوباما د ولسمشرۍ په دوره کې دا جګړه سخت پړاو ته ورسېده، نو اوباما په ۲۰۰۹ کال کې له خپلې ادارې سره مشوره وکړه او هغوی پرېکړه وکړه، چې طالب چون د دې ولس برخه ده، له منځه وړل کېدای نه شي خو کمزوري کول غواړي. نو ځکه يې ۳۰ زره تازه‌دمي سرتېري افغانستان ته ولېږل چې ورسره په افغانستان کې د ناټو او امريکا ټول پوځيان ۱۵۰ زره تنو ته ورسېدل. اوباما خپلو جنرالانو ته ويلي وو، چې که تر دريو کلونو پورې د افغان جګړې پايله معلومه نه شوه، نو خپل سرتېري له افغانستانه باسي. کله چې اوباما د سرتېرو د ايستلو پرېکړه وکړه؛ سياسي جوړجاړی يې له پامه وغورځاوه او د دې جګړې اداره يې په نامعلوم وضعيت کې ټرمپ ته په ميراث پرېښوده.»

د ښاغلي اعظم په وينا، دا چې ټرمپ يو بزنس‌مين/سوداګر و، تل يې د افغانستان د جګړې مخالفت کړی و او دا جګړه يې بې‌معنا بلله او دلته يې د امريکا پر لګښتونو او تلفاتو نيوکه کوله. بالاخره دوې مياشتې وړاندې د جولای په ۱۹مه يې له خپلې ادارې سره په دې اړه کافي بحث وکړ، چې په پايله کې يې له افغانستانه د نه وتلو پرېکړه وکړه او د اګسټ په ۲۲مه يې خپله پرېکړه اعلان کړه.

د ده په خبره، له امريکايانو سره دا مفکوره شته ده، چې طالب ماتولی نه شو؛ خو کمزوری کولی يې شو او خبره بايد پر دې وشي، چې څومره يې کمزوری کولی شو. همدا لامل و، چې د نوې پرېکړې له مخې به د افغان حکومت او شته پوځيانو د روحياتو پياوړي کولو لپاره يو څه نور پوځيان هم افغانستان ته رالېږي.

د ښاغلي اعظم په خبره، هغوی په دې خبره ډېر اختلاف نه سره لري، چې بايد په دې سيمه کې حضور ولري، خو په افغانستان کې د داسې يوه حکومت غوښتونکي دي، چې د دوی د نقشو او طرحو مخه ونه نيسي.

دکتور فاروق اعظم وويل: «پاکستان ته د ملامتۍ ګوته هم پخوا نيول کېده؛ خو ټرمپ يوازې هماغه پخوانۍ خبره علني کړه. بل عنصر چې پخوا ډېر مطرح نه و، هغه د هندوستان عنصر و او ټرمپ اوس دا اشاره وکړه چې تراوسه مو د هندوستان حساسيت مراعات کړی و، خو نور يې نه مراعاتوو.»

ښاغلي اعظم وويل: «که څه هم پاکستان امریکا ته اړتیا لري؛ خو پاکستان هم امریکا ته ګوزار ورکولی شي. که امریکا په افغانستان کې د داعش پروژه ولري، یا غواړي مرکزي اسیا ته ولاړه شي، بل پروګرام ولري... ترڅو چې په افغانستان کې پوځي حضور ولري، پاکستان ته به اړتیا ولري. د امریکا د پوځ ټول اکمالات د پاکستان له لارې کېږي. له بله پلوه، پاکستان یو ډول ګوابنونکی ایتلاف له روسیې، چین، ایران او نورو هېوادونو سره هم کولی شي او پاکستان ته د مانور یو فرصت شته دی.»

د سولې اړوند، که رښتیا په افغان حکومت کې لېوالتیا وي او د کړکېچ د هواري هوډ ولري، نو یو نسبي فرصت شته دی؛ ځکه د امریکا یوه ولسمشر (ټرمپ) د لومړي ځل لپاره په خپلو خبرو کې وویل، چې په دې سیمه کې د سولې د ټینګښت اړتیا شته ده؛ خو مهمه دا ده چې څه ډول دا نقطه په خپله ګټه وکاروو. ځکه اوس پاکستان او ایران هم تر فشار لاندې دي او اوس د کابل د حکومت لویه ضمه‌واري ده.

نوموړي زیاته کړه: «حکومت مستقیما له طالبانو سره خبرې کولی شي. که دوی دا خبره کوي چې طالبانو کې اختلافات دي او دوی د بل د لاس اله دي. ما مخکې هم دا خبره کړې، چې دا د حل لاره نه ده، هغوی (طالبان) به وایي چې تاسو هم د بل د لاس اله یاست. بل دا چې زما په نظر، د ګوریلا په ټول تاریخ کې طالب منظم خوځښت دی، نو مستقیما خبرې ورسره کېدای شي خو مسئله دا ده چې خبره څرنګه حل کړو. کنه ټول پوهېږي چې څوک د چا تر شا ولاړ دي.»

د غونډې دویم ویناوال **دکتور عبدالقیوم سجادي** بیا د ټرمپ د تګلارې په کورنیو او سیمه‌ییزو اغېزو خبرې وکړې. ښاغلي سجادي وویل: «د امریکا د نوې تګلارې اساسي محور د امریکا ملي ګټې دي. په دې برخه کې لومړۍ خبره د امریکا د نړیوالې سلطې ساتل دي. دویم هم د نړۍ په اقتصادي شتمنۍ کنټرول دی. دریم یې خپلو نړیوالو سیالانو ته ستونزې جوړول دي. څلورم بیا د امریکایي وګړو ساتنه ده. د دې ترڅنګ د ډموکراسۍ او بشري حقونو ساتنې په څېر اړخونه هم لري، چې دا یې تر ټولو ښکلي اړخونه دي، خو هېڅکله د دوی لومړیتوبونه نه دي.»

د ده په خبره، د ټرامپ تګلاره په یوه مثلث کې شرح کېدای شي، چې یوه ضلع یې د امریکا نړیوالې ګټې دي، دویمه یې سیمه‌ییزې ګټې دي او دریمه یې هم په افغانستان کې د امریکا ګټې دي.

د امریکا په لویو ګټو کې د چین، روسیې او ایران او هغو هېوادونو لپاره چې د امریکا نړیوالې سلطې ته ګواښ جوړولی شي، ستونزې او ننګونې رامنځته کول دي، ترڅو دا هېوادونه کنټرول کړي. په سیمه‌ییزو ګټو کې یې دا

ده، چې افغانستان د منځني ختيځ، سوېلي اسيا او سوېل ختيزې اسيا ترمنځ د يوې نښلوونکې نقطې حيثيت لري او دوی ته هم خورا مهم دی. ځکه مرکزي اسيا د نړۍ په کچه د انرژۍ له مراکزو څخه ده. همدا لامل دی چې ان د طالبانو د رژیم پر مهال دلته د يونيکال او بريډاس په څېر د انرژۍ نړيوالې کمپنۍ فعالې وې.

په افغانستان کې يې ګټې بيا هغه څه دي، چې دوی يې د لاسته‌راوړنو په نوم يادوي، لکه اساسي قانون، بيارغونه، ښوونه او روزنه او داسې نور، چې دوی نه غواړي له ګواښ سره مخ شي، ترڅو په امريکا کې د ماليه ورکوونکو قناعت پرې حاصل کړای شي؛ خو په ټوله کې د خپلو لويو اهدافو او ګټو لپاره کار کوي.

د ده په وينا «د افغانستان لپاره د ټرامپ په تګلاره کې دا نقطه د پام وړ وه، چې مشخصه محدوده يې نه ده ټاکلې، چې تر کله  او تر کومه. ټرمپ په څرګنده وويل، چې موږ به د محاسبې او تحليل له مخې تصميم نيسو نه د تاريخ او نېټې له مخې. نو ځکه زما په اند، ترڅو چې موږ خپله هڅه ونه کړو، د سياسي وفاق ليدلوری موجود نه وي، له اوسني بحرانه نه شو وتلی.»

دريم ويناوال، **اسدالله وحيدي** هم د افغانستان لپاره د امريکا د پخوانۍ او اوسنۍ تګلارې پر توپيرونو خبرې وکړې. ښاغلي وحيدي وويل: «په دې تګلاره هله ښه بحث کېدای شي، چې کله د تګلارې په اهدافو سم پوه شو. دا نظر چې د امريکا حضور دلته د ترهګرۍ د له منځه وړلو لپاره دی، اوس بيخي مسخره شوی.  ځکه اوس دا نظر په څرګنده مطرح دی، چې که د سپټمبر د ۱۱مې پېښې هم نه وای شوې، امريکا به دې سيمې ته راتلله.»

نوموړي زياته کړه: «دلته د امريکا د حضور په تړاو مهمه خبره دا ده، چې په دې سيمه کې د نړۍ ستر نفوس اوسېږي او امريکا دا اندېښنه لري، چې د بشري ځواک له پلوه زما سيال په دې سيمه کې راټوکېدلی شي. ځکه نو افغانستان ته د امريکا راتګ د سيمې بحث دی او دلته د روسيې او چين قضيه مطرح ده. له بلې خوا افغانستان په سيمه کې د يوې نښلوونکې نقطې حيثيت لري. يوه لوري ته د انرژۍ غني هېوادونه پراته دي او بل لوري ته د انرژۍ اړمن هېوادونه لکه پاکستان او هند پراته دي. د دې ترڅنګ په افغانستان کې د شته طبيعي زېرمو او کانونو خبره هم مطرح ده، خو زما له نظره ډېره جدي نه ده.»

د ده په وينا، له ۲۰۰۱ کال راهيسې په جګړه تمرکز دی او رښتينې سولې ته پاملرنه نه ده شوې. يوازې په سطحي پخلاينه افغانان مصروف ساتل شوي دي. دغه راز په دې موده کې شرايط داسې جوړ شوي وو، چې په افغانستان کې دولت وي؛ خو دومره کمزوری دولت چې د خپلواکې معاملې توان پيدا نه شي کړای.

د ښاغلي وحيدي په وينا، د ټرمپ په نوې تګلاره کې په څو ټکو تمرکز وشو. لومړی هم په افغانستان کې دولت-جوړونه وه، چې ټرمپ په ډېره څرګنده توګه وويل، چې دوی ورسره سروکار نه لري؛ ځکه د دوی په اند که دولت پياوړی شي، جګړه پای ته رسولی شي، کوم څه چې د دوی په ګټه نه دي او له بله پلوه دولتجوړونه وخت او لګښتونه هم غواړي.

دويم هم د مهارولو او کنټرول بحث و. امريکا تر ۲۰۱۲ کال پورې طالبانو ته د يوه ګواښ په سترګه نه کتل؛ خو کله چې د روسيې پښه هم افغانستان ته راکش شوه او دوی يې وګواښل؛ نو ټرمپ په روښانه وويل، چې طالبان زموږ دښمنان دي او له منځه به يې وړو. د قضيې همدا اړخ و، چې ملا اختر محمد منصور په نښه شو، ځکه هغه له ايرانه راروان و او د ايران او روسيې اړيکو له منځه يووړ. نو ځکه دوی پلان لري چې جګړه دې وي، خو يوازې کنټرول يې پکار دی.

دريم هم دلته د دوی د پوځي اډو خبره وه، چې په افغانستان کې يې جوړې کړي، ترڅو جګړه پرې کنټرول کړي. څلورم بيا د هند خبره ده. د ټرمپ په خبرو کې د هند قضيه د دې لپاره نه وه چې پاکستان وځوروي ترڅو دلته په سوله او ټيکاو کې همکاري وکړي؛ بلکې د هند د قضيې برجسته کولو موخه چين دی.

اسدالله وحيدي وويل: «په ټوليز ډول په دې تګلاره کې اساسي بدلون نه دی راغلی، بلکې يوازې يوه نوې پړاو ته داخله شوې او د امريکا اصلي پاليسي په جګړه ټينګار او استخباراتي لوبه ده. همدا لامل دی چې په دې وروستيو کې يو ځل بيا هماغه پخوانيو وحشتونو زور اخېستی، چې کله په واده بمباري کېږي او کله په جنازه او نورو ملکي وګړو.»

څلورم ويناوال او د ستراتېژيکو او سيمه‌ييزو څېړنو مرکز (CSRS) مشر **دکتور عبدالباقي امين** بيا پر دې خبرې وکړې، چې په دې وضعيت کې افغانانو ته څه کول پکار دي. ښاغلي امين وويل، دا چې افغانان څرنګه د خپلو منافعو حمايت کولی شي، درې نکتې پکې د پام وړ دي. د جګړې د پای ته رسولو لپاره هلې ځلې لومړی ګام دی. دويم هم خودکفايي ده، ځکه حکومت چې خپل لګښتونه خپله پيدا نه کړي، تل به بهرنيانو ته اړ وي او خپله اراده به يې کمزورې وي. دريم ټکی هم په افغانستان کې د يوه همغږي او قوي حکومت اړتيا ده.

د ده په خبره، امريکا تر ډېره دلته تجارتي اجنډا لري او همدا اوس هم حکومت پرې خبرېږي نه او د افغانستان شتمنۍ لوټ کېږي. دا د حکومت دنده ده چې دلته د امريکايانو تصرفات کنټرول کړي.

د دې ترځنګ له ګاونډیو هېوادونو سره د متوازن سیاست ساتلو هڅه باید وشي؛ نو ځکه زما په نظر له هند سره نژدې کېدل په اوسني وخت کې د هېواد په ګټه نه دي.

له دې ټولو وراخوا، عام افغانان د هېواد د بحراني وضعیت په تړاو ستر مسؤولیت لري او د خپل ځان او خپل هېواد د ژغورلو لپاره باید ګام اوچت کړي. ځکه نن هغه وضعیت راغلی چې پارلمان هم په مافیایي کړنو او د اداري فساد په دوسیو کې ښکېل دی. که افغانان منتظر وي، چې جګړه به پردي پای ته ورسوي، ناسم ګومان دی او ترڅو چې د جګړې په ښکېلو لورو فشارونه وارد نه شي، دا جګړه پای نه مومي. د نوموړي په خبره، لا هم د یوه قوي او رښتیني منځګړي اړتیا ده، چې د قضیې د ښکېلو اړخونو ترمنځ منځګړتوب وکړي.

د غونډې په وروستۍ برخه کې د ګډونوالو لهخوا هم د پوښتنو او ځوابونو په برخه کې د موضوع پر بېلابېلو اړخونو بحثونه وشول.

پای

**ارتباط با ما:**

ایمیل: info@csrskabul.com csrskabul@gmail.com

وب سایت: www.csrskabul.com - www.csrskabul.net

شمارۀ تماس دفتر: 784089590 (93+)

**ارتباط با مسؤولین:**

دکتور عبدالباقي امین، رئیس مرکز مطالعات استراتژیک ومنطقوی: (+93) 789316120 abdulbaqi123@hotmail.com

حکمت الله ځلاند، مسؤول بخش پژوهش‌ها و نشرات: (+93) 775454048 hekmat.zaland@gmail.com

**یادآوری:** لطفا نظرات و پیشنهادات خود را جهت بهبود مطالب این نشریه به ما ارسال دارید.